# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : زرغون زېري

شاعر : ډاکټر دیدار یوسفزے

د چاپ کال : ۲۰۰۱ کال

د چاپ ځائے : دانش کتابتون قصه خواني پېښور


## درکونه

۱- یونیورسټي بک ایجنسي پېښور

۲- پېښور پوهنتون ، پښتو څانګه

۳- شعیب سنز مینګوره

# ترون

د دي خاورې د هر ماشوم په نوم

چې زما د قام زرغون زېرے دے

## ډاکټر دیدار یوسفزے

# فهرست


| شمېر | لیک | مخ |
|---|---|---|
| سریزه | | --- |
| سریزه | | --- |
| سریزه | | --- |
| ۱ - | دا الله دے ، دا الله دے | ۱۳ |
| ۲- | شم درنه قربان نبي | ۱۴ |
| ۳- | دا الله دي پیدا کړي | ۱۵ |
| ۴- | عظیم انسان | ۱۷ |
| ۵- | ښۀ اخلاق | ۱۹ |
| ۶- | نعمتونه | ۲۱ |
| ۷- | د پښتو ټکي | ۲۳ |
| ۸- | مور او پلار | ۲۵ |
| ۹- | حجره جمات | ۲۶ |
| ۱۰- | کسب ګر | ۲۷ |
| ۱۱- | اتلان | ۲۸ |
| ۱۲- | زما قلم | ۳۰ |
| ۱۳- | ځۍ چې بوټي نال ګړو نن | ۳۲ |
| ۱۴- | زۀ به هم لسم ته شم | ۳۴ |
| ۱۵- | وایه دوه او درې پنځۀ | ۳۵ |
| ۱۶- | مونځ | ۳۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷- | زۀ د سبا ستورے یم | |
| ۳۹ | | |
| ۱۸- | رنګونه | ۴۰ |
| ۱۹- | وخت د پسرلي راغے | ۴۲ |
| ۲۰- | وخت | ۴۴ |
| ۲۱- | قسمونه د ادراک | ۴۵ |
| ۲۲- | روان یمه مکتب له | ۴۷ |
| ۲۳- | زۀ چې کله ځوان شمه | ۴۹ |
| ۲۴- | د سحر سېل | ۵۱ |
| ۲۵- | ژوند د لوئے محنت نوم دے | ۵۳ |
| ۲۶- | مارغان | ۵۵ |
| ۲۷- | زرغون زیري | ۵۶ |
| ۲۸- | ژمے | ۵۸ |
| ۲۹- | د دین ارکان | ۶۰ |
| ۳۰- | اختر | ۶۱ |
| ۳۱- | ښۀ کتاب یو ښۀ مل دے | ۶۳ |
| ۳۲- | ازادي | ۶۵ |
| ۳۳- | پاکوالے نیم ایمان دے | ۶۷ |
| ۳۴- | لوظ | ۶۹ |
| ۳۵- | لوبې | ۷۰ |
| ۳۶- | ښاد دې وي تل دا وطن | ۷۲ |
| ۳۷- | موسمونه | ۷۴ |
| ۳۸- | زۀ تازه ګلاب وومه | ۷۶ |
| ۳۹- | مخلوقات | ۷۸ |
| ۴۰- | خاورې زۀ دې ځوے یمه | ۸۰ |
| ۴۱- | د شپې ورځې وختونه | ۸۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲- | علم | ۸۳ |
| ۴۳- | زما فطرت | ۸۴ |
| ۴۴- | زمونږه دین اسلام دے | ۸۵ |
| ۴۵- | زۀ د وطن شان یمه | ۸۶ |
| ۴۶- | د ژوند قیصه | ۸۷ |
| ۴۷- | زۀ ژوبڼ له تلے ووم | ۸۸ |
| ۴۸- | خپلولي | ۹۲ |
| ۴۹- | ځلور نائبان | ۹۳ |
| ۵۰- | دعا | ۹۵ |

# د سباون زېرے

د چینئ ژبې یو هوښیار وائي : چې کهٔ تهٔ د یو کال د پاره منصوبه بندي کول غواړې نو فصل وکره - کهٔ د لسو کالو د پاره منصوبه بندي کول غواړې نو باغ ولګوه - او کهٔ تل عمري منصوبه بندي دې غرض وي نو انسانان جوړ کړه -
انسان جوړول او د هغوي لارښودنه خو یا نبیانو کړې ده یا ولیانو او یا شاعرانو -
نبیان خو د نبي اخرالزمان نه پس نهٔ راغلي دي او نهٔ به راشي - خو د هغوي پهٔ ښودلو لارو تلونکي ولیان او شاعران لګیا دي پهٔ هر دور او هره زمانه کښې خپل کار جاري ساتي - د قامونو پهٔ ذهني وده کښې چې د شاعرئ څومره برخه ده - د بل یو هنر نشته - دا اوس پهٔ شاعر منحصره ده چې هغه د خپل الهام ملغلرې د سرو زرو پهٔ لړو کښې پېي او کهٔ پهٔ ډېران ئې نولي -
سوچه شاعر چې د خپل هنر د پکارولو پهٔ غرض او غایت پهٔ منصب او مقصد ورسي - نو د هغه د قام نه وتې ملغلرې د اولس د غاړې د هار ځلیدونکي او پړقېدونکي غمي وي - د اولس د تاج ښکلا وي - خو دا برخه د ډېرو کمو شاعرانو وي -
د وطن ماشومان د ځوانانو بوزغلے وي - بوزغلے پهٔ وخت اوبهٔ خور ، څره او قلمول پکار وي - کهٔ چرې د بوزغلي خصمانه پهٔ ښهٔ ډول ونهٔ شي - نو سبا له دغه بوزغلے د ودې او سمسورېدو د توان نهٔ لرلو له کبله خوار پاتې شي ، بې قلمه او کم اصل پاتې شي - سیانه باغوان د بوټو نه ځان خبردار ساتي - ځکه چې ښاربهٔ او اصیل بوټي خلق پهٔ مینه خوروي هم او سنبالوي هم - او کله چې بوټے پهٔ زلمي توب راشي , ګلونه وسپړي ،

مونګرې وکړي - نو کرونکے بیا پۀ جامو کښې نۀ ځائیږي - پۀ موسم ښۀ اثر ، ګلونه مېوه ، سیورے او لرګي نه علاوه ونه نورې فایدې هم لري -
بیخي دغه مثال د یو ماشوم هم دے - د ذهن سازۍ پۀ خالي تختو چې څۀ ولیکلے شي - دغه د هغوي د سبا توښه وي -
پخوا به چې ماشوم د نیا نیکۀ پۀ غېږه کښې څۀ زده نۀ کړے شول - نو هغه به ورته حجرې او کلي کوڅو اوښودل - ماشوم چې به کله بوړږے شۀ - د حجرې د وتو به شۀ -  نو حجرې به لکه د ملغلرې وتراشۀ - اوس خو د یوې نه بله ورځ بده راځي - وارۀ لوئے ټوله ورځ ، شپه ، کور ، حجره ، بېټک هر ځائے ټي وي ته ناست وي - او ټي وي نه دوي ته خپله ژبه ښائي ، نۀ دین ، نۀ ثقافت ، نۀ پښتو او نۀ انسانیت او نۀ د کلي د حجرو هغه ثقافتي غورځنګ پاتې دے -
د نن ماشوم د سبا ځوانان او ځوانان د قام مېټې وي - کۀ چرې مېټې مړې او چیچړې شي - نو قام ډوب واخله او شاعر چرې خپل قام تود باد ته نۀ پرېږدي -
ډاکټر دیدار هم پۀ شعوري توګه " زرغون زیري " تخلیق کړے دے - دا پۀ ظاهره معمولي کتاب ښکاري - خو کۀ ژور پام اوشي نو پۀ پښتو ژبه کښې د ماشومانو له پاره لیکلے ادب د نشت برابر دے - وخت پۀ وخت د ماشومانو د تفریح له پاره څۀ لږ ډېر لیکل شوي دي - ولې د تعمیر او پۀ لوبو لوبو کښې پۀ غېر محسوسه توګه د نصابي کتابونو د یو څو نظمونو نه علاوه سودهم ته شین دے -
البته د خالقداد امید " ستوري" پۀ خپل ځائے ښۀ کتاب دے - خو د " زرغون زیري " او " ستوري "  تر مینځه د مقصدیت ، معنویت او تفریح ډېر فرق دے -
داکټر دیدار د خپل قام بچو ته د پښتو او اسلام قدرونه ، وطن دوستي، امن او څوکالي وغېره پۀ اعلا او ارفع رنګ کښې وړاندې کوي - انداز ئې دومره خوږ ، پوست ، روان او د ماشومانو د ذهني سطحې او نفسیاتو

مطابق دے - چې دوي به ترې نۀ يوائې خوند اخلي ، علم به ترې هم زده کوي او ياد به ئې هم ساتي -
د سادګئ ، رواني او معنويت پۀ لحاظ د ماشومانو له پاره دومره ګټور منظوم کتاب زما له نظره نۀ دے تېر شوے - زۀ هيله لرم چې پۀ ادبي دنيا کښې به " زرغون زيري" ته ډېر تود هرکلے اووئيلے شي - او د دې د اهميت او افاديت له مخه به دا کتاب د درسي او نصابي لوستې د پاره هم پۀ کار راوستے شي - ځکه چې دا د دې کتاب د شان سره ښائي -

**اباسين يوسفزے**
اسلاميه کالج پېښور
۱۵ فروري ۲۰۰۱ ء

# زېري

لکه د نور کله پۀ شان دا هم د ژمي یو داسې یخه شپه وه - چې د غرونو پۀ سرونو واورین څادرونه خواره شوي وو - او چې کله به د هوا څپو د دغه څادرونو سرونه وهل نو پۀ ټول ماحول کښې به ئې د ژوند ساه نوره هم لنډه تنګه کړه - د کلي پۀ کورونو کښې هر چا انغري تاوده کړي وو - او د اورونو تاو ته ډېرې پۀ ډډې کېدل - ګل پاڼه د خپلې نیا ابۍ سره پۀ بړستنه کښې لکه د ورکوټې پشونګړۍ یو خوا ته غلي پرته وه -

نیا ابۍ ورته لکه د نور کله پۀ شان نن هم د اوده کېدو نه وړاندې قصه کوله - ګل پاڼې چې به د خپلې نیا پۀ مخ د وخت کړو وړو کرښو او سپینو وېښتو ته پۀ غور وکتل - نو پۀ ډېره معصومه ژبه به ئې اووې - " ابۍ ستا دا وېښتۀ پۀ څۀ سپین شوي دي ؟ " -

نیا ابۍ به ورته خبره بدلوله را بدلوله خو ګل پاڼې به د هر سوال د جواب له پاره ضدونه کول - نن ورته نیا ابۍ د تورابان دېو قیصه کوله - د هر نوم سره به هغې پۀ خپل ذهن کښې د کردارونو شکلونه جوړول او ورانول - خو چې کله ئې نیا ابۍ دا خبره اوکړه - چې د یو غار نه تور ښامار را اووتۀ او پۀ شهزاده پسې ئې خله وازه کړه - نو ګل پاڼه د وېرې نه وبوږنېده - هغې پۀ بړستنه کښې سر پټ کړۀ او نیا ابۍ خپلې خوا ته رانزدې کړه -

ګل پاڼه ټوله شپه پۀ خوب کښې وېرېده - سبا له چې پاڅېده - نو د څۀ ساعت له پاره ترې خبره هېره وه - دغه سحر د اسمان نه وریځې تښتېدلې وې - نمر خپلې پلوشې خورې کړې وې -

ګل پاڼې د ناشتې نه پس د سکول جامې واغوستې - بېګ ئې غاړې ته واچولۀ - اول مور ښکل کړه بیا نیا ابۍ پۀ دواړه مخه ښکل کړه - ګل پاڼه صفا سوتره سکول ته لاړه - چې د پښتو کلاس شورو شۀ نو استاد نظم شورو کړۀ –

هاغه ډے پاړو راغے
اوس به ګډوي ماران
د مارانو د لفظ اورېدو سره ګل پاڼې ته د نيا ابۍ قيصه را ياده شوه - د هغې پۀ معصوم مخ وارخطائي راغله - او بيا ئې چغې کړې -استاد ورپسې فوراً نزدې راغے - " ولې ګل پاڼې بچے څۀ وشو " - ګل پاڼه ټوله د وېرې نه رپېده - " استاد جي ......... استاد جي ...... دا د مارانو سبق مۀ وايئ ...... مۀ وايئ " او بيا ئې پۀ ژړا ګوتې پورې کړې -
استاد کتاب بند کړۀ او يو ژور سوچ يوړو - " هو بالکل ګل پاڼه ښۀ وائي ....... " هغه د ځان سره اووې - ورځ تېره شوه - او استاد جي د ګل پاڼې د سوال له پاره ځوابونه لټول - خو هغه هېڅ نۀ پوهېدۀ چې سبا له ګل پاڼه ماشومه څنګه دلاسه کړي ؟
دا يواځې د ګل پاڼې د استاد جي خبره نۀ وه - د کلونو راسې زمونږ د پښتنو درسي کتابونه هم دغه نظمونه لري چې :
سائکله وفاداره .......
تۀ د غل بچے ئې ستا نيکۀ د بدو مل وۀ ......
اوښه اوښه ډانګه ..........
او داسې نور ډېر چې ترنم لري خو د ماشوم ذهن د اصلاح له پاره ټول او مکمل اړخونه نۀ لري -
نن سبا د اليکټرانک ميډيا پۀ وجه دنيا د يو عالمي کلي شکل اختيار کړے ډے - نن د علم او پوهې سفر ډېر وړاندې تلے ډے - زمونږ را روان نسل زمونږ نه د يو مثبت او تعميري سوچ غوښتنه کوي -
ستاسو پۀ لاس کښې د ډاکټر ديدار يوسفزي دا کتاب د نوي نسل له پاره د يو داسې زيري حېثيت لري - چې مونږ ئې د تيارو پۀ تور تم کښې يو نوے مشال ګڼلے شو - ډاکټر ديدار يوسفزے د طب ماهر ډے - خو د

طب سره سره د ماشومانو د نفسیاتو څخه تر کافي حده خبر دے - ځکه نو پۀ نظمونو کښې ئې د ماشومانو پۀ خله د ماشومانو خبرې کړي دي - حقه دا ده چې د سنجیده ادب پۀ مقابله کښې د ماشومانو له پاره لیکل ډېر ګران کار دے - او بیا پۀ پښتو کښې خو د ماشومانو له پاره هډو څۀ کار شوے نۀ دے - د ماشومانو د نظمونو دا کتاب به پۀ عامه پښتنه ټولنه کښې عموماً او پۀ سکولونو کښې خصوصاً د ماشومانو پۀ ذهني وده کښې ډېر لوئے لاس وکړي - راتلونکے وخت به کۀ یو خوا دیدار یوسفزے د نظم او غزل سره د هائیکو د نمائنده شاعر پۀ توګه یادوي نو بل خوا به د ماشومانو له پاره دغه زیار او دغه کوشش بیخي انفرادي حېثیت ولري -

**لائق زاده لائق**

د پښتونخوا د پوهنې دېره ، راحت اباد پېښور

۱/ اپرېل ۲۰۰۱ ء

# لوئ کار - دروند عمل

د ادب په دنيا کښې د ټولو نه لوئ تخليقي عمل د ماشومانو د پاره يا د ماشومانو په حواله د لويو تخليق کارو کړے زيار او کار ګڼلے شي - ځکه چې دغه لوئ تخليق کوونکي د دې عمل د پاره د خپل قد او خپل طبعي عمر نه ډېرې لاندې پولې ته را کوزيږي - او بيا دغلته د ماشومانو خپل احساسات، خپل نفسيات او خپل تصورات وي - او په دې پوهېدل يا د دې باريکۍ ته کوزېدل څۀ اسانه خبره او وړوکے کار نۀ دے -
دا ډېر لوئ ذهن ، صلاحيت او قابليت غواړي - زۀ چې د ډاکټر ديدار يوسفزي د ماشومانو د محسوساتو ژوند ، افکارو ، ضرورتونو او زده کړې په حواله ليکلو او نظمونو ته ګورم - نو دا راته د عامې شاعرۍ او امروزه تخليقي عمل نه لوئ کار په دې ښکاري - چې ښاغلي ديدار يواځې په دې نظمونو کښې نصيحت نۀ دے کړے - نۀ ئې د ځان نه د سکول استاد ساز کړے دے - بلکه د نن دور ماشوم ئې د ژوند د مختلفو اړخونو په تصويرونو او منظرونو کښې د ځان سره ګوته نيولے ګرځولے دے - او په رموزو ئې هم د دۀ د اشنا کولو زيار کړے دے - چې د ژوند په مختلفو ګوټ پېرونو او مرحلو به ورسره دے مخ کيږي - او د دۀ په تجربو او زده کړه کښې به ځائے کيږي او پکاريږي -
د ماشومانو له پاره د دې تخليقي کار ډېر لوئ اهميت په خپل ځائے خو ضرورت ئې دا دے چې د پښتو لمن پۀ دا قسمه شتمنۍ بيخي نيمګړې نيمه خوا ده - او کۀ د ډاکټر ديدار په دغه زيار پسې يو بل قدم پورته شۀ - نو يقيناً چې دا به زمونږ د ماشومانو د ادب پنګه ډېره درنه او خوږه کړي -

**محب الله شوق**

د اپريل دوئمه نېټه ۲۰۰۱ ء

# دا الله دے

چې خالق د دې دنیا دے
او ساتونکے د هر چا دے
چې په هر ځائے کښې موجود دے
خو د هر چا نه پنا دے

دا الله دے ، دا الله دے
دا الله دے ، دا الله دے

چې د هر چا مسیحا دے
خو دے یو دے او یکتا دے
چې نۀ څوک پېدا د دۀ نه
او نۀ دے له چا پېدا دے

دا الله دے ، دا الله دے
دا الله دے ، دا الله دے

چې مالک هم د جزا دے
او مالک هم د سزا دے
داسې څوک دے وایه وایه
چې لائق د کل ثنا دے

دا الله دے ، دا الله دے
دا الله دے ، دا الله دے

# شم درنه قربان نبي

اے شاه سلطان نبي
تۀ ئې د لوئے شان نبي

نوم د محمد لرې
ئ د کل جهان نبي

کم پۀ مرتبه کښې دي
ستا نه ټول نبيان نبي

ختم نبوت پۀ تا
تۀ أخير زمان نبي

زۀ يو امتي يم ستا
شم درنه قربان نبي

# دا الله دي پېدا کړي

ښائسته ښکلي ګلونه
خو اره پکښې رنګونه
وږمې د پسرلي او
د هاړ تاودۀ بادونه

دا چا دي پېدا کړي
وايه چا دي پېدا کړي
الله دي پېدا کړي
دا الله دي پېدا کړي

دا شنۀ شنۀ چمنونه
ولاړ ښکلي فصلونه
دا رنګ پۀ رنګ مېوې او
جدا پکښې خوندونه

دا چا دي پېدا کړي
وايه چا دي پېدا کړي
الله دي پېدا کړي
دا الله دي پېدا کړي

بې مثله دريابونه
خوړونه ، ابشارونه
رڼې رڼې چينې او
خوارۀ وارۀ سيندونه

دا چا دي پېدا کړي
وايه چا دي پېدا کړي
الله دي پېدا کړي
دا الله دي پېدا کړي

سحر او ماښامونه
د شپې ورځې رنګونه
غرمه ، مازيګرے او
دا مياشتې او کلونه

دا چا دي پېدا کړي
وايه چا دي پېدا کړي
الله دي پېدا کړي
دا الله دي پېدا کړي

دا زمکه اسمانونه
دا واړه جهانونه
پکښې زمونږ له پاره
بې شماره نعمتونه

دا چا دي پېدا کړي
وايه چا دي پېدا کړي
الله دي پېدا کړي
دا الله دي پېدا کړي

# عظیم انسان

دوست وي محنتي د خدائے
دا د خوږ نبي فرمان
خوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

هم پکار د بل شي دے
هم پکار شي دے د ځان
خوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

دے ګټه کوي مدام
چرته نۀ مومي تاوان
خوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

بخت ئې وي بېدار همېش
ژوند بۀ تېروي پۀ شان
خوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

وېښ ساتي امید د زړۀ
نۀ پرېږدي پۀ زړۀ ارمان
څوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

لوړو کارنامو ته ئې
وي ګوته پۀ خله جهان
څوک چې تل محنت کوي
وي هغه عظیم انسان

# ښهٔ اخلاق

نهٔ يم زهٔ ادنیٰ له تا
نهٔ ئې تهٔ اعلیٰ له ما
يو رنګ انسانان يو خو
کار د هر يو کس جدا

دے هغه پهٔ مونږ کښې ښهٔ
ښهٔ چې دي اخلاق د چا

خوښ وي هم زما او ستا
هم د تمامي دنيا
درونډ ورته واړه ګوري
لوئے ورته کوي دعا

دے هغه پهٔ مونږ کښې ښهٔ
ښهٔ چې دي اخلاق د چا

نن ئې وينو مونږ ګدا
څوک چې وهٔ پرون باچا
نهٔ دے څوک پهٔ تاج غوره
نهٔ دے پهٔ دولت بالا

دے هغه پهٔ مونږ کښې ښهٔ
ښهٔ چې دي اخلاق د چا

ښهٔ کردار مومي بقا
مرګ کړي کهٔ انسان فنا
څوک چې ښهٔ اعمال کوي
وي هغه ژوندے سدا

دے هغه پهٔ مونږ کښې ښهٔ
ښهٔ چې دي اخلاق د چا

# نعمتونه

بخښلي دي رب مونږ ته
بې شماره نعمتونه

دا سترګې ئې لیدو له
غوږونه اورېدو له
دا پښې ئې ګرځېدو له
دا عقل پوهېدو له

بخښلي دي رب مونږ ته
بې شماره نعمتونه

دا نمر ئې ځلېدو له
دا ستوري پرقېدو له
دا اور ئې بلېدو له
باران ئې ورېدو له

بخښلي دي رب مونږ ته
بې شماره نعمتونه

اوبهٔ ئې زمونږ څښو له
جامې ئې اغوستو له
ګلونه رنګینو له
دا بوټي ئې میوهٔ له

بخښلي دي رب مونږ ته
بې شماره نعمتونه

دا زمکه اوسېدو له
دا شپه اودهٔ کېدو له
نومونه پېژندو له
ژوندون ئې تېرېدو له

# د پښتو ژبې ټکي

خلور څلوېښت ئې توري
ځليږي لکه ستوري
زمونږ ژبه پښتو ده
چې ډکه د خوږو ده

اول " ا ب پ " دي
دا لوئې خزانې دي
بيا " ت" ده " ټ" او" ث " ده
خبره د فائد ده

بيا " چ" او "ح" او "خ" ده
ژوند لار د حوصلې ده
بيا "ج" او "ځ" او "څ" دي
دا وائي چې عالم دي

بيا "د" دے "ډ" او "ذ" دے
کۀ دولس مياشتې کال دے
بيا " ر ړ ز" او " ژ " ده
خو مياشت ښۀ د روژې ده

بيا " ږ س ش" او " ښ " دي
چې علم سرۀ او سپين دي
بيا " ص" ورپسې " ض " وي
پۀ دې پوهه تل ښا وي

بیا " ط ظ ع " او " غ" وي
دا خلق تل بې چېن وي
بیا " ف ق ک " او " ګ " وي
چې ورک پکښې انصاف وي

بیا " ل م ن " او " ڼ" وي
زړګے د هغه روڼ وي
بیا "و" دے او بیا "ه" ده
چې دا رڼا پکښې ده

ورستۍ پنځه ئې ګانې
ښائسته دي لکه زانې
لرئ حوصلې ځوانې
جونګړې مو ودانې

# مور او پلار

د مور پښو کښې مو جنت دے
پلار د سر د پاسه چت دے

د اسلام او د پښتو هم
دغه ښکلے روایت دے

کۀ مو پلار دے او کۀ مور ده
ژوند له دوي نه عبارت دے

اطاعت ئې فریضه ده
یو سپېځلے عبادت دے

د ژوندون پۀ هر پړاو ئې
مقام لوئے دے او اوچت دے

چې ژوندي دي مور او پلار دي
نو بل چاته څۀ حاجت دے

# حجره او جمات

کۀ حجره ده کۀ جمات دے
پکښې پروت مو کائنات دے

کۀ اسلام دے ، کۀ پښتو ده
هر یو خوږ لکه د شات دے

حجره ستن د ثقافت ده
او جمات د دین سوغات دے

مونږ شته کړي ئې پۀ دواړو
مهربانه د خدائے ذات دے

ښۀ هغه چې ئې پۀ زړه کښې
د دې دواړو قدر زیات دے

# کسب ګر

مونږ ئې د زړۀ له تله قدر کوو
مونږه پۀ هر کسب ګر فخر کوو

هر پراچه ، کولال ، لوهار دلته کښي
ښۀ پۀ اخلاص کړے خپل کار دلته کښي

کۀ وۀ نائي ، کۀ ډم ، جولا زمونږه
وه پرې مضبوطه ډېره ملا زمونږه

ټول کسب ګر مو د قام لاس او پښې وې
د دوي پۀ سر باندې زمونږ مزې وې

نشته نانداپ , غوبه ، لربه دلته اوس
نۀ درمندونه ، نۀ قولبه دلته اوس

دنيا اوس لاړه نړيوال کلے شۀ
نوي کسبونه راغلۀ ژوند نوے شۀ

# اتلان

خپل اتلان یاد ساتو
زړۀ کښې ئې اباد ساتو

هر اتل دې خاورې له
ښۀ مبارزه کړې
تل پۀ سخته لاره ئې
قام ته دروازه کړې

خپل اتلان یاد ساتو
زړۀ کښې ئې اباد ساتو

شته مو پۀ تاریخ نظر
وخت به رانه تېر نۀ شي
لولو به فکرونه ئې
یو مشر به هېر نۀ شي

خپل اتلان یاد ساتو
زړۀ کښې ئې اباد ساتو

لرې پسې تلۀ نشته
دا مو پۀ إحساس کښې دي
دے د انټرنیټ دور
هر څۀ مو پۀ لاس کښې دي

خپل اتلان یاد ساتو
زړهٔ کښې ئې اباد ساتو

څوک چې اتلان هېر کړي
هاغه قام ورکیږي تل
څوک چې ئې ژوندي ساتي
ژوند ورته سمیږي تل

# زما قلم

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

زۀ د نوي ژوند معمار
زۀ د نوي کول سالار
زۀ ئې د بقا ضامن
زۀ ئې د حرمت پاسدار

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

خبر کۀ يو سپق ليکم
سپين به زۀ مطلق ليکم
مل به د رښتياؤ يم
تل به پرې زۀ حق ليکم

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

زۀ به پرې ستائم امن
زۀ به پرې ويشم امن
زۀ د امن غړے يم
زۀ به پرې پالم امن

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

کړم به پرې تيارې رڼا
ټولې انديښنې رڼا
سپين سپېځلے ليک به مې
کړي دا تورې شپې رڼا

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

دے به زېږوي مينه
دے به خپلوي مينه
جنګ نه به نفرت کوي
دے به خوروي مينه

لوړ به ساتم ټول عمر
زۀ د خپل قلم معيار

# ځئ چې بوټي نال کړو نن

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

دا شينکي شينکي بوټي
دا رنګي رنګي بوټي
ونې به سبا له وي
دا تنکي تنکي بوټي

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

دے زمونږ دولت ونې
غواړي محبت ونې
کړي به چاپېرچل زمونږ
سم لکه جنت ونې

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

شي به سم او غر ښکلے
هر يو رو ګودر ښکلے
شين څادر به واغوندي
دلته هر يو در ښکلے

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

کړې به شنې ، مېرې مونږ له
نیسي به مېو مونږ له
دا به پهٔ خپل ګور سیوري
یخې کړي مېرې مونږ له

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

شي به دا هوا صفا
اخلو به مونږ ساه صفا
دا صفا ماحو به کړي
ژوند زما او ستا صفا

ځئ چې بوټي نال کړو نن
ځئ چې بوټي نال کړو نن

# زۀ به هم لسم ته شم

اوس کۀ پۀ او کښې يم
بيا به زۀ دويم ته شم

ښۀ به زوتووم سبق
کله چې دريم ته شم

ښکلې به تختۍ ليکم
زۀ چې څلورم ته شم

نور چې مړنے شمه
بيا به زۀ پنځم ته شم

ځم نو مکتب له به
کله چې شپږم ته شم

ښۀ سبق چې اووائم
بيا به زۀ اووم ته شم

پوهه به مې زياته شي
څنګه چې اتم ته شم

ښۀ به يم لوئے شوے زۀ
کله چې نهم ته شم

تۀ کۀ پۀ لسم کښې ئې
زۀ به هم لسم ته شم

# وایه دوه او درې پنځۀ

زما واوره دا "یوه"
همېشه ښۀ کار کوه

وي یوه او یوه "دوه"
د معراج وي ښکلې شپه

تل یوه او دوه وي "درې"
شنې منې شوې تکې سرې

دوه او دوه همېش "څلور"
کوه خیال د ورور او خور

وي به دوه او درې "پنځۀ"
وخت پرې نۀ ږدې د مانځۀ

وایه دوه او څلور "شپږ"
ښۀ پۀ چغه او پۀ زوږ

وي تل درې څلور "اووۀ"
دا سبق مو زوتووۀ

وي څلور څلور " اتۀ "
نمر شي زیړ پۀ پرېواتۀ

وي ثلور او پنځه "نهه"
بړده د بل پۀ زخم پهه

وي پنځه او پنځه " لس"
زۀ يم سترګې د اولس

# مونځ

ښهٔ پنځه وخته رښتیا
فرض مونځ دے پهٔ هر چا
چې پهٔ نوم وي مسلمان
کهٔ سائل وي کهٔ باچا

اول مونځ دے د سحر
دے انسان هغه بهتر
چې ادا ئې کړي پهٔ وخت
کهٔ دا ښځه وي کهٔ نر

دوئم مونځ د ماسپښین
دے جبین هغه جبین
چې ترې نهٔ شي دا قضاء
دے مومن هغه مومن

دریم مونځ د مازیګر
هغه زړهٔ لکه ګوهر
چې ئې غم وي ورسره
دے کامیاب هغه بشر

ورپسې مونځ د ماښام
ښهٔ مې واوره دا پېغام
چې ډېر کم وي وخت د دې
هم به خیال کوې هم پام

پنځم مونځ د ماسخوتن
لکه روح د هر بدن
ښهٔ ډېر خيال ئې دے پکار
چې بې ساه دې نهٔ شي تن

# زۀ د سبا ستورے یم

تاب لرم د نمر پۀ شان
کړم به ځلنده جهان
دے وطن پۀ ما ودان

زۀ د سبا ستورے یم
زۀ د سبا ستورے یم

زۀ یم د وحدت نامه
زۀ یم د الفت نامه
زۀ د محبت نامه

زۀ د مینې تورے یم
زۀ د سبا ستورے یم

کل به شي زما عقل
دا مې د وېنا اصل
زۀ د را روان نسل

څپر یمه سیورے یم
زۀ د سبا ستورے یم

کم یمه پۀ تن کۀ زۀ
ګل یم پۀ بدن کۀ زۀ
نشته پرواه نن کۀ زۀ

تبغ یمه کمزورے یم
زۀ د سبا ستورے یم

# رنګونه

بې شماره دي رنګونه
بې شماره ئې قسمونه
خويونه ئې جدا دي
او بيل بيل ئې نومونه

يو رنګ پۀ دې کښې "سپين" دے
صفا لکه آئين دے
دا رنګ د امن رنګ دے
دا هر چا ته نيازبين دے

يو رنګ پۀ دې کښې"سور" دے
چې تود لکه تنور دے
دا رنګ د وينې رنګ دے
د مينې او سرور دے

يو رنګ پۀ دې کښې "شين" دے
پۀ دې مې افرين دے
دا رنګ د ژوندانۀ دے
ډېر ښکلے او حسين دے

يو رنګ پۀ دې کښې " تور " دے
دوئم نوم د پېغور دے
دا رنګ د شپې ځليږي
پکښې د تيارو کور دے

یو رنګ پۀ دې کښې "زیړ" دے
ډېر غوره او ډېر لوړ دے
دا رنګ د شفق رنګ دے
پۀ دۀ مازیګر غوړ دے

یو رنګ پکښې "وودي" دے
چې خوئي ئې خصوصي دے
دا رنګ د اسمان رنګ دے
چې پټ اوس پۀ لوګي دے

نور هم شته دے رنګونه
نور هم شته ئې نمونه
خو ما د دې چمن نه
راخستي څو ګلونه

# وخت د پسرلي راغے

وخت د پسرلي راغے
ګل ئې کړې کوڅې زمونږ

دومره ډېر ګلونه دي
کښې نۀ بږدم قدم پۀ ګل
ګورم چې پټو ته زۀ
زیړ دي د شرمشم پۀ ګل

وخت د پسرلي راغے
ګل ئې کړې کوڅې زمونږ

لاړ شمه چې باغ ته زۀ
هر ګل پۀ شباب وینم
هم پکښې رامبېل چامبېل
هم پکښې ګلاب وینم

وخت د پسرلي راغے
ګل ئې کړې کوڅې زمونږ

سور دے د ورخاړي ګل
نشته بل رنګ خس پکښې
دنګ د پۀ ډنډر ولاړ
سپین ګل ګنګس پکښې

وخت د پسرلي راغے
ګل ئې کړې کوځې زمونږ

شنهٔ شنهٔ دي واښهٔ يو خوا
بل خوا سرهٔ ريدي ښکاري
ځائے پهٔ ځائے پهٔ مينځ کښې ئې
ښکلي زيړ ګلي ښکاري

وخت د پسرلي راغے
ګل ئې کړې کوځې زمونږ

# وخت

وي پهٔ هر چا کار زما
هم پهٔ هر چا لار زما

څومره چې خوش بخت یمه
دومره پهٔ زړهٔ سخت یمه

چا ته زهٔ اودرېږم نهٔ
چا ته ایسارېږم نهٔ

زهٔ همېش روان یمه
زهٔ همېش ودان یمه

څوک چې هم ما سپک ګڼي
ځان دې هغه ورک ګڼي

څوک چې ما نایاب ګڼي
ځان دې دے کامیاب ګڼي

څوک چې زما قدر کړي
ژوند پهٔ هغو فخر کړي

## قسمونه د ادراک

پۀ شمار کښې ټول پنځه دي
قسمونه د ادراک
هم دا حواس خمسه
انسان ساتي پۀ واک

پۀ دې پېژندګلو کښې
اول درک لیدل دي
دا کار مو د نظر دے
پۀ سترګو مو کتل دي

دوئم درک هر قسمه
غږونه پېژندل دي
پۀ خپلو دوه غوږونو
خبرې اورېدل دي

درئم درک خوندونه
توکل یا تېرول دي
او کار زمونږ د ژبې
د هر یو خوند ښکل دي

درک چې څلورم دے
پۀ پوزه ساه راښکل دي
بس کار زمونږ د پوزې
دا هر څۀ بویول دي

پنځم درک د لمس دے
دا پته لګول دي
دا کار د ټول بدن دے
د لمس محسوسول دي

# روان يمه مکتب له

روان يمه مکتب له
روان يمه مکتب له

وينځلي مې لاسونه
پاک کړي مې غاښونه
وېښتهٔ مې منګز کړي
پرې کړي مې نوکونه

روان يمه مکتب له
روان يمه مکتب له

پهٔ يو لاس کښې تختۍ ده
پهٔ بل کښې مې متۍ ده
پهٔ پښو کښې مې بوټان دي
پهٔ سر توره ټوپۍ ده

روان يمه مکتب له
روان يمه مکتب له

پهٔ غاړه مې بسته ده
پرته پکښې قاعده ده
پهٔ ښهٔ شان له اغوستې
ما توره ملېشه ده

روان یمه مکت له
روان یمه مکتب له

لوستل به پکښې زده کړم
لیکل به پکښې زده کړم
مکتب د پوهې ځائے دے
وئیل به پکښې زده کړم

روان یمه مکتب له
روان یمه مکتب له

# زۀ چې کله ځوان شمه

زۀ چې کله ځوان شمه
مير به د کاروان شمه
خپل علم به پورته کړم
خور به پۀ جهان شمه

زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

دنګ به ورله سر کړمه
تن به ورله غر کړمه
څۀ وي د وطن مينه
هر څوک به خبر کړمه

زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

دے چې به بې مثال کړمه
دے به لازوال کړمه
زۀ به د محنت پۀ زور
دے د جهان سيال کړمه

زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

کړم به د چمن پهٔ سر
وار ئې د دښمن پهٔ سر
وخت کهٔ تقاضه وکړه
ږدم به زهٔ کفن پهٔ سر

زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

# د سحر سبېل

ځم چې د سحر پۀ سبېل
هر څۀ ښائسته ښکاري

پرخه ئې پۀ مخ پرته
وي ښکلے کبل مسکے
خاندي هر يو ګل راته
وي غندل غندل مسکے

ځم چې د سحر پۀ سبېل
هر څۀ ښائسته ښکاري

يخ بادونه الوزي
وي ښکلې هوا هر خوا
نۀ وي کړي نمر خيره
وي تته رڼا هر خوا

ځم چې د سحر پۀ سبېل
هر څۀ ښائسته ښکاري

ښۀ تازه تازه ښکاري
رنګ د ګلدرو پکښې
چار چاپېره خوند کوي
چغې د مرغو پکښې

ځم چې د سحر پۀ سبېل
هر څۀ ښائسته ښکاري

زۀ پکښې ښۀ اوګرځم
تن شي د سيالۍ زما
لاړې شي او ورکې شي
ټولې ستومانۍ زما

ځم چې د سحر پۀ سبل
هر څۀ ښائسته ښکاري

بيا د ونو پاڼو کښې
پټه اشاره کړي نمر
هر څۀ شي رانۀ ، رانۀ
سترګې راښکاره کړي نمر

ځم چې د سحر پۀ سبل
هر څۀ ښائسته ښکاري

ډېر ښکلے منظر وينم
ګورم چې کوم لور ته زۀ
بيا ترې را روان شمه
راشمه خپل کور ته زۀ

ځم چې د سحر پۀ سبل
هر څۀ ښائسته ښکاري

# ژوند د لوئے محنت نوم دے

ژوند د لوئے محنت نوم دے
ژوند د لوئے محنت نوم دے

ژوند د ورورولئ پېغام
ژوند د اخوت نوم دے

ژوند د رب رضا کول
ژوند د اطاعت نوم دے

ژوند د بندګیٔ سبب
ژوند د عبادت نوم دے

ژوند د مینې خور کتاب
ژوند د محبت نوم دے

ژوند ازمېښت د صبر دے
ژوند د قناعت نوم دے

ژوند د صفاییٔ طالب
ژوند د نفاست نوم دے

ژوند د رښتینیٔ تله
ژوند د صداقت نوم دے

ژوند د ښيښې لوښے دے
ژوند د نزاکت نوم دے

ژوند د هوښيارتيا تکل
ژوند د لوئے حکمت نوم دے

## مارغان

زمونږ پهٔ چاپېرچل کښې
شینکي او پهٔ ځنګل کښې

مارغان دي ښهٔ بې شماره
ښائست ئې بې مثاله

الوت ئې پهٔ وزر دے
ودان پرې سم او غر دے

تنزري ، تاروګان دي
کهٔ شنهٔ ښکلي طوطیان دي

شین غاړي کهٔ ډینګان دي
سیسیٰ کهٔ مرزان دي

کونترې ، خارونکې
چنچڼې ، سور سرکې

دا خراړې او بلبلې
دا زرکې ښکلې ښکلې

ښکلا د فطرت ژباړي
ډېر خیال ئې ساتل غواړي

# زرغون زيري

مونږ چې پۀ دې خاوره کښې
رب رازېږولي يو
بيا ئې د غندل پۀ شان
مونږ راټوکولي يو

مونږ د نوي ژوند اغاز
مونږه زرغون زيري يو
مونږه زرغون زيري يو

مونږ يو د جذبو ژبې
علم د سر تاج زمونږ
راز پۀ جهان نۀ پرېږدو
دا پوهه معراج زمونږ

ځانله دے زمونږ انداز
مونږه زرغون زيري يو
مونږه زرغون زيري يو

مونږه به د هر دروغ
دلته مخ نيوے کوو
مونږه به د حق ، باطل
دلته سپيناوے کوو

مونږه يو د حق اواز
مونږه زرغون زيري يو
مونږه زرغون زيري يو

مونږ به پهٔ خېرنو کړو
ځانله منور جهان
خیژو به خلا ته مونږ
کړو به مسخر جهان

لوړ به وي زمونږ پرواز
مونږه زرغون زیري یو
مونږه زرغون زیري یو

# ژمے

د ژمي يخ موسم دے
د ژمي يخ موسم دے

څوک ناست دي انغرو ته
څوک ناست دي انګیټو ته
چا اور ځانله بل کړے
تودیږي ئې لمبو ته

دا اور په خلقو کم دے
د ژمي يخ موسم دے

د يخ ژمي ګړی ده
شورو اوږده ژړی ده
بابا پکښې د ځان نه
تاو کړې ښهٔ شړی ده

چې تود وي څهٔ ئې غم دے
د ژمي يخ موسم دے

دنیا سپينه ځليږي
تر څومره چې ښکاريږي
د واورې سپين څپولي
چاپيره را وريږي

تک سپين تمام عالم دے
د ژمي يخ موسم دے

د نمر نه تول تاويږي
پيتاو ته ئې توديږي
چې سترګه راښکاره کړي
هر څوک ترې قربانيږي

يخنۍ ترې ويستے دم دے
د ژمي يخ موسم دے

يخن نن لېونۍ ده
هوا هم پۀ سيالۍ ده
انډک سونډک راوړې
تېره يخه سيلۍ ده

نن زور د سيلۍ سم دے
د ژمي يخ موسم دے

# د دین ارکان

پنځۀ د دین ارکان زمونږ
پۀ ټولو دے ایمان زمونږ

اول رکن دین کلمه
د رب د ذات آئین کلمه

دوئم رکن ئې مونځ کول
دري رکن روژه نیول

زکات ئۀ څلورم رکن
او حج ئې دے پنځم رکن

د دي خورې لمنې دي
خو دا پنځۀ ئې ستنې دي

د خدائے سره خدائي ښائي
بنده له بندګي ښائي

# اختر

بيا ښکلے اختر راغے
بيا ښکلے اختر راغے

لوئے واړۀ او ځوان زاړۀ
هر څوک خوشالیږي نن
دلته بيا د لوئے اختر
ورځ نمانځلے کیږي نن

بيا ښکلے اختر راغے
بيا ښکلے اختر راغے

ګل ګل ماشومان وینم
هر څوک دي سينګار ښکلي
نوي ئې پۀ تن جامې
پښو کښې ئې پېزار ښکلي

بيا ښکلے اختر راغے
بيا ښکلے اختر راغے

نن له حده زيات ښکاري
جوش پۀ ماشومانو کښې
څوک ځانله پۀ ټال ځانګي
څوک پۀ زانګو ګانو کښې

بيا ښکلے اختر راغے
بيا ښکلے اختر راغے

ځائے پۀ ځائے ځوانان دلته
جمع حلالو ته دي
دي ګوته پۀ خله واړۀ
ناست ئې تماشو ته دي

بیا ښکلے اختر راغے
بیا ښکلے اختر راغے

ټولو خلقو یو بل له
نن مبارکی ورکړې
خپلو او پردو ټولو
یو بل له ډالۍ ورکړې

بیا ښکلے اختر راغے
بیا ښکلے اختر راغے

# ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے

ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے
ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے

دے به درته ځان ښائي
دے درته جهان ښائي
تا ته د ژوند پټ پناه
دے د هر زمان ښائي

ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے
ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے

قدر چې د دهٔ کړې تهٔ
ډېر څهٔ به ترې زده کړې تهٔ
دے د سحر زېرے دے
ځان به ځلنده کړې تهٔ

ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے
ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے

څوک چې دا حکمت لري
دے به لوئے همت لري
چرته به مفلس نهٔ شي
څوک چې دا دولت لري

ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے
ښهٔ کتاب یو ښهٔ مل دے

لوړ به دې معیار کړي دے
دروند به دې کردار کړي دے
تا چی پۀ خوږو کالو
کله هم سینګار کړي دے

ښۀ کتاب یو ښۀ مل دے
ښۀ کتاب یو ښۀ مل دے

تا به دے خوشال ساتي
تا به لازوال ساتي
تل به پۀ تیارو کښې تا
بل لکه مشال ساتي

ښۀ کتاب یو ښۀ مل دے
ښۀ کتاب یو ښۀ مل دے

# ازادي

مونږه ازاد پېدا يو
ځکه مو ژوند جنت دے
د غلامۍ نه تېښته
د هر انسان فطرت دے

دا د هغۀ عظمت دے
دا د هغۀ عظمت دے

د خوشالو له پاره
کۀ پکار روغ صحت دے
د ازادۍ له پاره
سر پرېکول غېرت دے

د دې هم دا قيمت دے
د دې هم دا قيمت دے

د هسک ژوندون له پاره
مونږ له پکار وحدت دے
دغه زمونږ بقا ده
دغه زمونږ عزت دے

هم دا د نن حاجت دے
هم دا د نن حاجت دے

بندي مرغۍ ته ګوره
پهٔ دې کښې پروت عبرت دے
پهٔ چغو چغو وائي
غلام ژوندون ذلت دے

ازادي لوئے نعمت دے
ازادي لوئے نعمت دے

# پاکوالے نیم ایمان دے

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

له هر یو کاره مخکښې هم
د لاسو پاکول ښهٔ وي
او پس له هر یو کار بیا
خپل دواړه لاس وینځل ښهٔ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

د هر خوراک نه وړاندې ښهٔ
د خلې کنګالول ښهٔ وي
او پس له هر خوراکه بیا
د خلې صفا کول ښهٔ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

پهٔ ورځ کښې خامخا یو ځل
پهٔ هر موسم لامبل ښهٔ وي
پهٔ شپه او ورځ کښې دوه ځله
غاښونه پاکول ښهٔ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

پښې آبله ګرځېدلو نه
پېزار په پښو کول ښۀ وي
او هر رنګه جامې مدام
ښې پاکې اغوستل ښۀ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

په ورځ کښې دوه یا درې ځله
وېښتۀ منګزول ښۀ وي
اووه ورځو کښې یو ځلې
نوکونه پرېکول ښۀ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

هم دغسې خپل کور کلے
بیخي صفا ساتل ښۀ وي
د ګبرچاپېر نه هر قسمه
سخاوالے لر کول ښۀ وي

تندرسته پاک انسان دے
پاکوالے نیم ایمان دے

# لوظ

کلک د قول اظهار دے لوظ
پوخ مضبوط اقرار دے لوظ

هر څوک چې هم اوکړي لوظ
بیا اتبار ساتل ښهٔ وي
هر خنګه پهٔ هر قیمت
لوظ پوره کول ښهٔ وي

کلک د قول اظهار دے لوظ
پوخ مضبوط اقرار دے لوظ

هېر چې وي د چا نه لوظ
ژوند د هغو ژوند نهٔ وي
هر چا ته وي سپک هغه
څوک چې ئې پابند نهٔ وي

کلک د قول اظهار دے لوظ
پوخ مضبوط اقرار دے لوظ

نشي چې پاللے لوظ
هاغه څهٔ انسان نهٔ دے
مړ چې پهٔ خپل لوظ نهٔ شي
هاغه مسلمان نهٔ دے

کلک د قول اظهار دے لوظ
پوخ مضبوط اقرار دے لوظ

# لوبې

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دے

چې وړکړي لوبو له وخت
نو صحت مند هغهٔ وي
پهٔ صحت مند وجود کښې
ښهٔ صحت مند مازغهٔ وي

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دے

د ګټې هر چا کښې دا
لویه جذبه پېدا کړي
هم د بېداد زغملو
ښهٔ حوصله پېدا کړي

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دے

دا کړي پهٔ ژوند ګښې خلق
مقابلې ته تیار
هم پهٔ ازمېښت کښې چوکس
هم کشالې ته تیار

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دے

پهٔ یو ژوندي قام کښې تل
لوبې د ژوند نخښې وي
ځکه د لویو وړو
د هر یو تن خوښې وي

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دے

# ښاد دې وي تل دا وطن

ګران دے ډېر په ما وطن
ښاد دې وي تل دا وطن

دا د ننګیالو خاوره
دا د توریالو خاوره
دا د بریالو خاوره

دا مې د بابا وطن
ښاد دې وي تل دا وطن

دا د خوش بختۍ زېرے
دا د سوکالۍ زېرے
دا د خپلواکۍ زېرے

زار د مسیحا وطن
ښاد دې وي تل دا وطن

زۀ دلته کښې ښاد یمه
زۀ دلته اباد یمه
زۀ دلته ازاد یمه

ژوند له مې بقا وطن
ښاد دې وي تل دا وطن

دا د پسرلو زمکه
دا د ګلدرو زمکه
دا د نندارو زمکه

ګل وطن زما وطن
ښاد دې وي تل دا وطن

# موسمونه

خلور وي موسمونه
څلور ئې خصلتونه
يو اوړے وي بل ژمے
سپرلے وي يو ، بل منے

پنځه مياشتې وي اوړے
ډېر خوږ وي پکښې سيورے
اوله " ايساکئ " ده
د اوړي ککرئ ده
بيا "جېټ" ، "هاړ" ، "پشکال" دي
چې ګرمې د ټول کال دي
اخيره ئې " بادرو " ده
د اوړي د وتو ده

بيا تاو کړي وخت ګرزني
موسم راشي د مني
"اسو" وي او "کتک" وي
دا دوه مياشتې ئې وخت وي
د ورځې کۀ ګرمي وي
د شپې پکښې يخني وي

بيا درې مياشتې وي ژمے
چې تېر شي څنګه منے
"مګر" وي "پو" او "ما" وي
يخني پکښې سېوا وي

ځنګ میاشت چې د "مګر" شي
یخني پهٔ سم او غر شي
چې میاشت ځنګه د "پو" شي
بیا پرخه د کتو شي
چې میاشت کله د "ما" شي
تېره یخه هوا شي

بیا دوه میاشتې سپرلے وي
هر ګل پکښې مسکے وي
اوله میاشت " پګڼ " وي
ودان پکښې ګلبن وي
دویمه ئې "چېتر" وي
باران پکښې پهٔ تر وي

# زۀ تازه ګلاب وومه

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

زۀ یوه تنکۍ غوټۍ
جوړه پۀ ډنډر شومه
بیا له ډېره زیاره پس
اوغوړېدم ګل شومه

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

تاو رانه شنې پاڼې وې
ځانله خندېدمه زۀ
خپل شینکي ډنډر باندې
سور ووم ځانګېدمه زۀ

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

خلق به راتلل ما له
زۀ ووم د بوستان ښکلا
هر چ ا به کتل ماته
ووم د ګلستان ښکلا

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

زۀ د خپلې ځانګې نه
ستا ګوتو جدا کړمه
ما چې پۀ ډنډر خاندل
تا زۀ پۀ ژړا کړمه

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

ختمه تازګي. شوه مې
مړاوے شومه سپک شومه
ورژېدم پک شومه
خاورې شومه ورک شومه

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

لږې خوشالۍ له تا
غم زما پۀ تن راوست
اووایه پۀ څۀ ګناه
ما له تا اجل راوست

زۀ تازه ګلاب وومه
ګل ووم پۀ شباب وومه

# مخلوقات

رب خپل ربوبیت له
او خپل ثنا صفت له
درې قسمه پېدا کړي
مخلوق خپل عبادت له

بس خپل وحدانیت له
بس خپل وحدانیت له

اول د ادم ذات دے
چې علم ئې ډېر زیات دے
د خاورې نه دے جوړ خو
اشرف له مخلوقات دے

دے روح د کائنات دے
دے روح د کائنات دے

دوئم قسم پېریان دي
د سترګو نه پنهان دي
له اوره پېدا کړي
زمونږه رب سبحان دي

خوارهٔ پهٔ کل جهان دي
خوارهٔ پهٔ کل جهان دي

درېم ئې فرښتې دي
چې ښې ئې مرتبې دي
له نوره دي پېدا او
په هر لوري خورې دي

پخې ئې عقيدې دي
پخې ئې عقيدې دي

# خاورې زۀ دې څوے يمه

تۀ مې ئې خپل ځان مورې
تۀ مې ئې ایمان مورې
ما دې پۀ خوره سینه
کړے دے تولان مورې

خاورې زۀ دې څوئے يمه
خاورې زۀ دې څوئے يمه

تا ته زۀ ښاغلے يم
تا ته نازولے يم
تا پۀ خپله غېږه کښې
تل زۀ لوبولے يم

خاورې زۀ دې څوئے يمه
خاورې زۀ دې څوئے يمه

تا سره نسبت لرم
ننګ لرم غېرت لرم
زور پۀ خپلو مټو کښې
ستا د حفاظت لرم

خاورې زۀ دې څوئے يمه
خاورې زۀ دې څوئے يمه

باز غوندې نظر زما
تن د ایلم غر زما
زړېر به دښمنان کړمه
وار لکه حېدر زما

خاورې زۀ دې ځوئے یمه
خاورې زۀ دې ځوئے یمه

# د شپې ورځې وختونه

اوله سپین سحر شي
ښکاره ځلنده نمر شي

بیا تکه سره غرمه شي
دا زمکه ښهٔ توده شي

بیا زیړ مازیګرے شي
د نمر پیتاو نرے شي

او بیا سکڼے ماښام شي
د ورځ عمر تمام شي

اخیر کښې توره شپه شي
دنیا پهٔ خوب اوده شي

د شپې ورځې وختونه
د وخت دا تصویرونه
هم دغسې چورلیږي
راخیژي ، فنا کیږي

# علم

علم هم جمال دے
علم هم جلال دے

علم لویه پوهه ده
علم لوئے کمال دے

علم زرین تاج د سر
علم د تن ډال دے

علم خزانه د ژوند
علم د بخت لال دے

علم د تیارو دښمن
علم بل مشال دے

علم له زوال نشته
علم لازوال دے

# زما فطرت

ښکلے مې خوئي ، ښکلے فطرت دے زما
هر چا ته دروند کتل عادت دے زما

ځکه ئې ما خدمت ته غاړه ایښې
د مور د پښو لاندې جنت دے زما

د مدرسې سبق پۀ مینه وایم
پۀ دې محنت کښې هم عظمت دے زما

د استادانو احترام کوومه
شوے هم داسې تربیت دے زما

زۀ پکښې لوبو له هم وخت اوباسم
خو دغه کا د فراغت دے زما

خدمت د خلکو عبادت ګڼمه
د ژوند مقصد دا عبادت دے زما

# زمونږه دين اسلام دے

قرآن زمونږ کلام دے
چې دا د رب انعام دے

مونږ مسلمانان يو
زمونږه دين اسلام دے

چا ته چې خوارۀ يو مونږ
هغو ته مو سلام دے

امن پۀ دنيا غواړو
بس دا زمونږ پېغام دے

ځوانې دي جذبې زمونږ
منزل راته يو گام دے

مونږ ته هر يو مشر خپل
قابل د احترام دے

# زۀ د وطن شان يمه

زۀ د وطن شان يمه
زۀ د وطن ځوان يمه

زۀ د وطن متېي يم
زۀ د وطن توان يمه

زۀ دا وطن ځان ګڼم
زۀ د وطن ځان يمه

دا مې د سر سيورے دے
زۀ پۀ دۀ ودان يمه

زار يم د وطنه زۀ
زۀ پۀ دۀ قربان يمه

# د ژوند قیصه

کۀ سل کاله پیړۍ ده
پۀ شمار یوه ګړۍ ده

کۀ دولس میاشتې کال دے
زر تېر شي دا ئې حال دے

څلور هفتې کۀ میاشت ده
ژوندۍ پۀ خپل شناخت ده

اووۀ ورځې هفته ده
د ګلو ګلدسته ده

څلیریشت ګنټې ورځ* ده
پۀ نمر هم پۀ وریځ ده

ګنټه شپېته منټه
هم داسې ده چورلټه

منټ شپېته سیکنډه
شوه ختمه قیصه لنډه

*ورځ (دلته ترې مراد شپه او ورځ ده )

# زۀ ژوبنې له تلے ووم

زۀ ژوبنې له تلے ووم
زۀ ژوبنې له تلے ووم

لوئے لوئے او واړۀ واړۀ
وو رنګي مارغان پکښې
سپین او زیړ هم سرۀ او شنۀ
وو ښکلي طوطیان پکښې

زۀ ژوبنې له تلے ووم
زۀ ژوبنې له تلے ووم

ګڼ وو شادوګان پکښې
ټول وو د نخرو نه ډک
سم ئې خاندولے ووم
ډېر وو د پېښو نه ډک

زۀ ژوبنې له تلے ووم
زۀ ژوبنې له تلے ووم

دوه وو منزري پکښې
رنګ وۀ زیړ بخن د دوي
ځا نله پۀ پنجره کښې بند
سم به غړمبېدل هغوي

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

یو پکښې هاتي هم وۀ
لوئے لوئے ئې غوږونه وو
زوړند وۀ خړتم د دۀ
دوه اوږده ئې غاښونه وو

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

ښۀ ښائسته طاوس وۀ یو
ښکلے ئې وۀ تاج پۀ سر
ګوره وه لکئ د دۀ
رنګ پۀ رنګ ئې هر وزر

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

بل خوا ته جوړه جوړه
ځانله ګرځېدې هوسئ
زۀ چې به ئې ولیدم
بیا به ترهېدې هوسئ

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

ما چې بن مانس وليد
شومه ورته زۀ حېران
سم له رنګه تور وۀ دے
تاو ترې وو چاپېر سيخان

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

يو خوا ځناور وۀ بل
سم لکه سنډا وۀ دے
ښکر ئې پۀ تندې کښې وۀ
ما ليدۀ ګېنډا وۀ دے

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

يو پکښې اوښ پېرانګ هم وۀ
لويه وه غړۍ د دۀ
رنګ ئې تاپي تاپي وۀ
لنډه وه لکۍ د دۀ

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

هلته کښې برګ خرۀ هم وو
اخوا د ښخوا تلۀ راتلۀ
تور او سپين پۀ پټو وو
ښۀ وو دا ښاربۀ ښاربۀ

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

یګ مې پکښې هم ولید
مست ښۀ له غورځنګه وۀ
لوئے لوئے وو وېښتۀ د دۀ
دے هم تور له رنګه وۀ

زۀ ژوبڼ له تلے ووم
زۀ ژوبڼ له تلے ووم

# خپلولي

تصور مې د جنت دے
فرښتې غوندې مې مور ده

د دې مور مې یوه خور ده
په رشته مې هغه ترور ده

چا ته زهٔ چې ورندار وایم
ښځه دا زما د ورور ده

زما مور د هغې خواښې
چې زما د مور اینګور ده

دغه رنګ چې زما خور ده
د ورندار مې دا اېندرور ده

د پښتو په خپلولۍ کښې
دا رشته د هر یو کور ده

# ثلور نائبان

پس له خوږ نبي نه وو
داسې صحابیان ثلور
غوره چې له هر چا وو
د وو نائبان ثلور

کوم چې و رښتونے ډېر
وۀ دے وړومبنے نائب

نوم ئې ابوبکر وۀ
لوئے وۀ کرامت د دۀ
لقب ئې صدیق پرېوت
ډېر وۀ صداقت د دۀ

کوم چې جلالي وۀ ډېر
دے وۀ دویمے نائب

خپل نوم ئې عمر لرۀ
خوږ وۀ ریاست د دۀ
لقب ئې فاروق پرېوت
ښۀ وۀ نظامت د دۀ

کوم چې وۀ ډېر زیات سخي
دے وۀ درئمے نائب

خپل نوم ئې عثمان لرۀ
درولند وۀ تجارت د دۀ
لقب ئې غني پرېوت
ډېر وۀ سخاوت د دۀ

کوم چې وۀ ښۀ ډېر تورزن
دے وۀ څلورم نائب

نوم ئې خپل علي لرۀ
زیات وۀ لیاقت د دۀ
لقب ئې حېدر پرېوت
ډېر وۀ شجاعت د دۀ

# دعا

يا الله زما الله
واوره دا دعا الله

دې خاکي وجود له مې
را د نور ځلا الله

ما کړه د ببېګا په مخ
پړق د رونې سبا الله

هر باطل ته وساته
نېغ مې سر سدا الله

ژوند د مجاهد راکړه
مرګ د شهيد را الله

دا مې تمنا د زړهٔ
دا مې التجا الله